**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ترکمنستان دولت لکه د غلو غونډې د خپل رعیت له کورونو اوړه غلا کوي!**

**(ژباړه)**



په دې وروستیو کې د ترکمنستان دولت د اوړو او ډوډۍ له کمښت سره مخ دی. د ترکمنستان د بدیل نیوز خپرپاڼې د راپورونو پر بنسټ، دولت په اوس وخت کې خلکو ته په ورځ کې له یوې ډوډۍ زیاته هغه هم یوازې په سهار مهال نه شي ورکولی. نانوایانې د خلکو اړتیاوې نه شي پوره کولی، د چارو پوهان څرګندوي چې دولت د دې یوې ډوډۍ د ورکولو لپاره ټول اوسېدونکي نه شي اسیرولی. ټولې په پام کې نیول شوې ډوډۍ، حتی هغه ضایع شوې ډوډۍ چې وړاندې یوازې د ځینو یتیمانو له خوا اخیستل کېدلې، پای ته رسېدلې دي.

د ترکمن غږ راډیو «آزاتلیک شهر داش اغوز» د راپور پر بنسټ، د ترکمنستان د شمالي سیمې لوړپوړو له اوړو سره د کمښت له امله، د سیمې د اوسېدونکو د اوړو د صادرولو هوډ کړی، څرنګه چې دغه حالت خلک د حیواناتو سبوس خوړلو ته اړ کړي، سبوس هم نه بس کېږي.

شته سرچینو ته په پام سره، ډېری وخت د سیمې اوسېدونکي د دولتي ادارو مخو ته د لاریون کوونکو په توګه راټولېږي، خو له بلې خوا دولت په توجیهي مذاکراتو سره چې مذهبي شخصیتونه او مشرانو ته پکې ګډون ورکوي، هڅه کوي ترڅو په خلکو کې بېرته سوکالي راولي. سیمه ییز پولیس خلک صف صف دروي او د ټولو لاریون کوونکو د اړیکو شمېرې اخلي او هغوی ته وعده ورکوي

چې کله د پيرېدلو لپاره اوړه راغلل، تاسو ته به خبر درکول کېږي، د ترکمنستان لوړ پوړي او سيمه ييزې رسنۍ د خوراکي موادو د قيمت د لوړېدلو ته پاملرنه نه کوي، بلکې يوازې د دولت د اقتصادي تقلبي څېرې لپاره بازارموندنه کوي.

بايد هېر نه کړو چې ترکمستان کابو پنځه میلیونه نفوس او د نړۍ يو پر څلورمه برخه د طبيعي گازو زېرمې لري. د ترکمنستان لومړني ولسمشر صفر مراد نيازوف، په ۱۹۹۱کې له خپلواکۍ څخه وروسته اعلان کړه چې ترکمستان به دويم کويټ وي او د دغه هېواد ټول اوسېدونکي به د مرسديس موټرو څښتنان شي. خو په بدل کې يې دوه کاله کېږي چې ترکمنستان د لومړنيو توکو له کمښت سره مخ دی او د ژمي په راتلو سره به د خوراکي موادو له نه شتون سره هم مخ شي، د «آزاتليک» راډيو خبرو د دې هېواد وضعيت له دويم کويټ څخه ډېر لري وباله.

د کارپوهانو په خبره، ترکمنستان له خپلواکۍ راپه دېخوا د ډېر جدي اقتصادي بحران شاهد دی، چې د دغه بحران اصلي دليل، د انرژۍ د سرچينو نړيوال نرخ راټيټدل دی، ځکه د دغه هېواد اقتصاد په بنسټ کې د همدې سرچينو په گټه پورې تړاو لري. سربېره پر دې په دغه هېواد کې د اقتصادي مديريت کمزورتيا هم د ياد وضعيت لامل شوې ده؛ لکه څنگه چې دغې لوبې له ۱۰ تر ۱۵ ميليارده ډالرو لگښت درلود. د «آزاتليک» تحليلگران ادعا کوي کله به چې د آمو سيند له پل څخه موټرونه تېرېدل پوليسو به تلاشي کول او هر چا به چې د ۲۵ منات (ترکمني پولي واحد) په ارزښت اوړه لېږدول، جريمه کول به يې او د سرغړونې په وخت کې به يې گواښل او اوړه به يې ترې اخيستل.

**اې د ترکمنستان مسلمانانو!** داسې ولسمشر چې خپل خلک يې په سخت فقر او لوږه کې ساتلي، حتي له کورونو څخه يې اوړه غلا کوي او هغه څوک چې غواړي له گاونډيو هېوادونو څخه غنم صادر کړي، زنداني کوي يې او د غلو په شان يې موټر تلاشي کوي، اوړه يې مصادره کوي، ايا داسې کس د دې وړ دی چې پر تاسې حکومت وکړي او د چارو مسوليت مو پر غاړه ولري، په داسې حال کې چې ستاسو خاوره له طبيعي سرچينو څخه ډکه ده؟! د خوراکي موادو بحران چې خلک ورسره مخ دي، اساسا له ناسالم مديريت، له کرنې او صنعت څخه نه ملاتړ، د دولتي مسوليت نه احساس او سرچينو ته اهميت نه ورکولو پورې تړاو لري؛ ځکه په منځنۍ اسيا کې ځمکې حاصل ورکونکې وي او هره کرنه پکې وده کوي. امکان نه لري چې منځنۍ اسيا دې د خوراکي موادو له کمښت سره مخ شي، مگر يوازې په مصيبتونو کې لکه وچکالي يا غير مترقبه سيل چې له ځان سره ډېرې ويجاړۍ رامنځته کړي.

اوس د دې وخت رارسېدلی چې جنايتکار او ظالم دولتونه له منځه يوسو او په بدل کې يې د نبوت پر تگلاره اسلامي خلافت تاسيس کړو، داسې دولت چې خليفه يوازې د اسلامي شريعت اړوند احکام پلې کړي او د خپل رعيت په حق کې له خپل مسوليت څخه ووېرېږي، لکه حضرت عمر قاروق رضی الله عنه چې کله ماشومان په لوږه وليدل، له بيت المال څخه يې اوړه او غوړي واخيستل، پخپله يې خواړه چمتو او د هغوی په خوله کې ورکړل. هو، هغه وخت به مسلمانان له بيکارۍ، فقر، د ژوند له فشارونو، قطحۍ او کړکېچونو خلاص او د هغه څه په ادا کولو چې الله سبحانه وتعالی پرې فرض کړي يعنې د الله سبحانه و تعالی د رضايت په لاسته راوړلو به بوخت شي.

له الرایه جریدې څخه اخیستل شوې

لیکواله: مخلصه ازبکي

۱۴۳۹هـ.ق، د جمادی الثاني۱۹مه

۲۰۱۸م، د مارچ ۷مه

ژباړن: فیاض